کتاب

۴ مخ

## د اړيکو مديريت




که غواړی د اړيکو پر مټ مو ژوند ورځې تر بلې ښکلی کړی، خپلو موخو ته په اسانۍ سره ورسېږی او په ټوله مانا ځان د نورو د زړونو پاچا جوړ کړی؛ د اړيکو مديريت کتاب ولولئ!

مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د جولای لسمه | درېیم کال| ۴۰۲یمه گڼه


# بيا هم ملکي تلفات؛

## ګډو ځواکونو په بغلان او وردګو کې ۱۲ ملکيان وژلي دي



۳

### چارواکي: سږ کال به په هلمند کې نږدې ۹۰ زره مټريک ټنه انګور توليد شي



په هلمند کې سږ کال د انګورو په حاصلاتو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. د دغه ولايت د کرنې رياست د پلان او همغږۍ د پروګرامونو مسوول رفيع‌الله قلم پرون ازادي راډيو ته ويلي، چې سږ کال به په هلمند ولايت کې نږدې ۹۰ زره مټريک ټنه انګور توليد شي.

د ښاغلي قلم په خبره، د هلمند انګور د کيفيت له پلوه ښه دي او له هلمند سربېره، د هېواد په ځينو نورو ولايتونو کې هم ښه بازار لري.

نوموړی زياتوي چې په هلمند کې په څه باندې شپږ زره هکټاره ځمکه کې د انګورو باغونه دي چې له هر هکټار ځمکې څخه ۱۶ مټريک ټنه انګور راټولېږي. د دې ترڅنګ، په دغه ولايت کې د بڼوالۍ د ودې او پراختيا لپاره بڼوالو ته روزنيز پروګرامونه نيول کېږي او دا شان ورته د اړتيا وړ امکانات هم ورکول کېږي.

### يو مسوول حکومت څنګه دومره وحشت کولی شي؟

۲ مخ

### د نړۍ يو قطبي نظام کله پای ته رسېږي؟

۲ مخ

### ايا له ويتنام، عراق او افغانستان څخه تللو امريکايي سرتېرو ته يو ډول درناوی کېږي؟

۳ مخ

## زلمی خليلزاد د اووم پړاو مذاکراتو تر بشپړېدو مخکې چين تللی دی

د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد پرون ناوخته په يوه ټويټ کې ويلي، چې په دوحه کې يې له طالبانو سره د اووم پړاو خبرو په دوام چين ته تللی دی.

نوموړي زياته کړې چې له چيناني چارواکو سره تر مشورو وروسته به واشنګټن ته ولاړ شي او هلته به امريکايي چارواکو ته په خبرو کې د وروستيو پرمختګونو په اړه راپور ورکړي.

نوموړي ويلي چې د اووم پړاو خبرو په دوام به له طالب پلاوي سره له افغانستانه د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته، د دواړو هېوادونو پر اړيکو خبرې کوي.

بل لور ته په دوحه کې طالب پلاوي هم ويلي، چې له امريکايي لوري سره په خبرو کې اختلافونه پای ته رسېدلي او ډېر ژر به د سولې مسوده نهايي شي.

خليلزاد دغه ر از ويلي چې د اووم پړاو مذاکراتو په دوام به دواړه خواوې له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو پر مهالوېش، د نورو هېوادونو پر وړاندې د افغان خاورې نه کارېدو، اوربند او له افغاني لوري سره د خبرو پر پيل بحث وشي .

نوموړي زياته کړې: «موږ هيله من يو، خوشبين يو، خو تر هغې چې وروستۍ پرېکړه نه وي شوې، نو دا به ستونزمنه وي چې زه په پوره ډاډ سره ووايم چې حتمن به دغه مسايل سبا حل شي».

## د دوحې ناسته رسمي نه وه، د پرېکړې عملي کول يې ډېر ممکن نه دي



۵ مخ

## صديقی: حکومت از هر تلاشی برای پایان دادن جنگ در کشور استقبال می کند



ارگ، نتايج نشست بين‌الافغانی قطر را مثبت خوانده و می گويد، از هر تلاشی که به منظور پايان دادن جنگ و منجر به گفت‌وگوهای مستقيم ميان حکومت و طالبان گردد، استقبال می کند.

نشست دو روزۀ بين‌المللی قطر، به تاريخ ۱۶ سرطان با اشتراک ۶۰ تن، به ميزبانی قطر و جرمنی در شهر دوحه مرکز قطر برگزار شد. در نشست ياد شده، برعلاوۀ هيئت ۱۷ نفری طالبان؛ نمايندگان زنان، سياستمداران، فعالان مدنی افغان از کابل، اروپا و کشورهای ديگر اشتراک کرده بودند.

نشست ياد شده، با انتشار قطع نامۀ هشت ماده يی شب گذشته پايان يافت، که در آن از طرف‌های درگير جنگ خواسته شده است که بجای به کارگيری ادبيات تهديد، انتقام جويی و جنگ طلبانه در بيانات رسمی خويش، از زبان ملايم استفاده نمايند.

در همين حال صديق صديقی سخنگوی رياست جمهوری، ديروز در يک نشست خبری در کابل گفت که پروسۀ صلح کنونی، برای گروه طالبان يک فرصت است؛ بايد آن ها از جنگ دست کشيده و از فرصت بوجود آمده استفاده کنند.

به گفتۀ صديقی، حکومت افغانستان از تمامی جزئيات مراحل نشست بين‌الافغانی آگاه بوده و اين پروسه را به گونه جدی، دقيق و با تدبير به پيش می برد.

موصوف در ادامۀ صحبت هايش افزوده: «به باورما گفت‌وگوهای نشست بين‌الافغانی دوحه، دريک جهت مثبت درحرکت است؛ ما اميدوار هستيم که با تلاش‌های مشترک حکومت و جامعه جهانی، جنگ در افغانستان خاتمه پيدا کند.»





Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

## یو مسوول حکومت څنګه دومره وحشت کولی شي؟

تازه حکومتي ځواکونو چې ویل کېږي امریکایي ځواکونو یې هم ملتیا کوله په وردګو کې پر یوه روغتون برید کړی دی. ناروغان، ډاکټران او نور کارکوونکي یې وهلي دي. په دې برید کې څلور روغتیایي کارکوونکي وژل شوي او څو تنه نور ټپیان دي. یو ډاکټر ورک دی، د مړي او ژوند درک یې نشته. بلخوا بیا په بغلان کې هم په یوه هوایي برید کې اووه ماشومان وژل شوي دي. پېښه د ډنډ شهاب‌الدین ولسوالۍ د قطب خېلو سیمه کې شوې ده. سیمه ییز حکومتي چارواکي دواړه پېښې مني.

دا بریدونه په داسې حال کې شوي چې په کابل او غزني کې د طالبانو په برید کې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې ته حکومت توند غبرګون وښود او خلکو هم د طالبانو دغه برید کلک وغندلو. اوس پوښتنه دا ده چې حکومت ولې په دومره پراخه کچه ملکي وګړي وژني او وحشت کوي؟

ښایي لومړی خبره بیا هم د تېروتنې وي. اوس دا د خلکو په زخمونو د مالګې له دوړولو پرته بله مانا نه لري چې دغو پېښو ته تېروتنې وویل شي. دا یوه نه، بلکې بېخي ډېرې پېښې دي چې ملکي وګړي پکې وژل کېږي. په دې وروستیو کې دا پېښې ډېرې شوې دي او آن نړیوالو بنسټونو او رسنیو په لومړي ځل دا ویلي چې حکومت او امریکایي ځواکونو تر طالبانو ډېرو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې ده. حکومت یا د دې پېښو څخه یو مخ انکار کوي او یا یې هم مني، بیا د څېړنو خبره کوي چې پایلې یې هېڅکله نه معلومېږي. حکومت کله کله د دا ډول پېښو د تکرار د مخنیوي ژمنې هم کوي، خو نه یوازې دا پېښې کمې شوې نه دي، بلکې زیاتې شوې هم دي.

حکومت چې ځان ته مشروع او مسوول وایي، د اساسي قانون پر اساس د خلکو د خوندیتوب دنده لري، نو څنګه له خپلو خلکو سره دا ډول وحشت کولی شي!؟ څنګه خپل خلک په دا ډول وحشت وژلی شي؟ ولې بیا بیا داسې عملیات وشي چې مرګ ژوبله یې ملکي وګړو ته اوړي؟ ډېری داسې پېښې قصدي او شعوري وي، حکومت ولې د دې ډول پېښو له مسوولینو سره حساب نه کوي؟ که د ملي وحدت حکومت د افغان انسان وینې ته ارزښت ورکوي، نو د خپلې واکمنۍ له پیله تر اوسه یې کوم چارواکی یا سرتیری د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې له امله محاکمه کړی دی؟ له بده مرغه هېڅ داسې بېلګه نشته. دا ښیي چې د ملي وحدت حکومت مشران د ملکي وګړو د وینې په اړه ځومره بې توپیره دي.

هېڅکله یو مشروع او مسوول حکومت د خپلو خلکو پر وړاندې دا ډول وحشت نه شي کولی. دا له خپلو خلکو سره د دښمنۍ اوج ښیي. که حکومتي چارواکي دا فکر کوي چې په دې ډول وحشتونو سره به د خپلو غربي ملګرو ملاتړ خپل کړي، خپل واک به وغځوي، دا تېروتنه ده. له ولس سره دا ډول ظلم او وحشت به خپله د حکومت لپاره بدې پایلې ولري. دا ډول وحشتونه به چارواکي نور هم د خلکو له سترګو وغورځوي او بیا به د حکومت او ترهګرو ډلو ترمنځ خلک کوم توپیر نه کوي.

# د نړۍ یو قطبي نظام کله پای ته رسېږي؟

لیکوال: پیټر هارېس / ژباړن: داوود محمدي

د نړیوال سیاست ځیني شنونکي پر دې اند دي چې نور د یوازیني ستر قدرت په توګه د امریکا وخت په ختمېدو دی. دوی د امریکا په کور دننه ګډوډي، د چین او نورو قدرتونو راپاڅېدل د نړۍ د اوسني یو قطبي نظام په لنډه موده کې د پای ته رسېدو او د نوي نړیوال نظم د رامنځته کېدو نښې بولي، چې هغه به له یوه ډېر قدرتونه رهبري کوي. موږ پر دې نه پوهېږو چې کله به دا یوه قطبي نړۍ بدله شي؟ څنګه به بل نړیوال قدرت له امریکا سره ځان سیال او ترې مخکې کړي؟ او د کوم اصل او تعریف له مخې به یو قطبي نظام پای ته رسېدلی وبلل شي؟

دا پوښتنې ډېری وخت د «مجموعي ملي ځواک» د فورمول له مخې ځواب شوې دي. د همدغه فورمول پر اساس، که د امریکا د رقیب هېواد مجموعي ملي ځواک په اقتصادي او پوځي برخه کې له امریکا څخه ډېر شي، امریکا به مخ پر ځوړ وي.

خو یوه قطبي نړۍ یوازې د پوځي بودجې د پرتلنې له مخې نه شو تعریفولی، بلکې پر دې د پوهېدو لپاره په بېلابېلو جغرافیو کې د قدرت او نفوذ پر وېش پوهېدل هم پکار دي. د پوځي او اقتصادي ځواک په مرسته امریکا وکولی شوی چې په بهر کې سترې پوځي اډې جوړې کړي. امریکا اوسنی هژمونیک وضعیت یوازې د مادي قدرت پر اساس نه دی تر لاسه کړی، بلکې په باندنۍ نړۍ کې د امریکا پوځي او سیاسي حضور ډېر مرستندوی ثابت شوی دی.

د یوې قطبي نړۍ پر جیوپولیټیکي سیاستونو د پوهېدو لپاره پکار ده چې لومړی د یوه قطبي نظام له منځته راتګه خبر شو چې د سړې جګړې له دوه قطبي نظامه وروسته یې ځان ونیو. د سړې جګړې د پای د نېټې په اړه د پوښتنې ځواب په تا پورې اړه لري چې له چا یې پوښتې. سړه جګړه په ۱۹۸۹ ز کال کې کله چې پر ختیځه اروپا د شوروي اتحاد منګولې سستې شوې او یا هم په ۱۹۹۱ ز کال کې کله چې شوروي اتحاد په رسمي توګه وپاشل شو، پای ته ورسېده.

هغه کوم لاملونه وو چې دوه قطبي نظام ته یې د پای ټکی کېښود؟ آیا دا له ختیځې اروپا څخه د شوروي پوځونو وتل، که د وارسا تړون ماتېدل؟ که د شوروي اتحاد نړېدل؟ که د شوروي اتحاد د رهبرۍ په لومړیتوبونو او چلن کې بدلون؟ او که کوم بل لامل و؟

د سیاستپوه هارېسن واګنر په اند، دوه قطبي نظام په نړیوال سیاست کې د دوو قدرتونو شتون ته نه ویل کېږي، نه هم د دوی د اټومي وسلو اندازه او د ملګرو او ائتلافونو رامنځته کول دي، بلکې د سړې جګړې د قدرت د وېش ځانګړتیا دا وه چې یو هېواد شوروي تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته د نسبي سولې پر مهال په «یورو آسیا» یعنې په منځنۍ آسیا او ختیځه اروپا، تقریباً بشپړ واک درلود؛ په داسې حال کې چې پخوا به هېوادونو دا لویه وچه تر پرله پسې پوځي بریاوو وروسته تر لاسه کوله.

په بل عبارت، دوه قطبي نظام د سړې جګړې پر مهال جیوپولیټیکي بڼه درلوده چې لوېدیځ بلاک په دوامداره توګه په دې هڅه کې و، چې د نړۍ په ځینو ستراتېژیکو سیمو، بالخصوص په اروپا او ختیځه آسیا، د شوروي د تسلط او نفوذ مخه ونیسي. په شوروي کې د کورنیو تحولاتو په پایله کې چې کله یادو سیمو ته د مسکو له خوا مستقیم پوځي ګواښ پای ته ورسېد، د سړې جګړې د مهال نړیوال دوه قطبي نظام هم پای ته ورسېد. د دوی قطبي نظام د ختمېدو لپاره د شوروي اتحاد سقوط او د دغه هېواد په مجموعي ملي ځواک کې د پام وړ کموالی کافي نه و. د دې لپاره پکار وه چې پر یورو آسیا سیمه د جیوپولیټیک سیالیو پر ځای د بېلو نړیوالو تعاملونو په څېر ګټې او نفوذ وغځول شي.

### د یو قطبي والي نن، پرون او راتلونکی څه مانا لري؟

لومړی؛ که چېرې د سړې جګړې پر مهال دوه قطبي نظام په اروپا او ختیځه آسیا کې د برلاسۍ او برترۍ د تر لاسه کولو سیالي وه او که دغه سیالي هغه وخت پای ته رسېدلې وي چې کله شوروي د یادو سیمو له کنټرول څخه لاس په سر شو، نو ورپسې نوی رامنځته شوی یو قطبي نظام هم جیوپولیټیکي خصوصیتونه درلودل. یو قطبي نظام هغه ځانګړی ستراتېژیک حالت بلل شوی چې د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته امریکا په اروپا او ختیځه آسیا کې نیمه هژمونیکه سلطه رامنځته کړه.

په ساده ټکو، اوسمهال د امریکا متحده ایالتونه د ۱۹۴۵ ز کال شوروي اتحاد ته ورته، د اروپا او آسیا په ډېرو مهمو سیمو سیاسي او پوځي نفوذ او جیوپولیټیکي مقام تر لاسه کړی دی. په اروپا کې د امریکا په مشرۍ د ناټو ائتلاف له اتلانتیک څخه تر تور سمندرګي او د فنلنډ تر خلیج پورې غځېدلی دی. امریکا په آسیا کې هم د ائتلافونو او ملګرو په واسطه خپل جیوپولیټیک سیال (چین) په بشپړه توګه محاصره کړی دی. که دوه قطبي نظام پر یورو آسیا باندې د کنټرول سیالۍ بلل شوې، نو یو قطبي نظام هم هغه حالت بلل شوی چې جیوپولیټیک سیالان پکې فعالیت نه لري.

د امریکا سیالان(روسیه، چین، ایران او شمالي کوریا) یو قطبي نظام او تر سړې جګړې وروسته نړیوال سیستم داسې تعریفوي، چې امریکا د تل لپاره پر هغو سیمو خېټه اچولې چې د دویمې نړیوالې جګړې او سړې جګړې پر مهال یې د پوځي اډو په توګه کارولې او داسې اټکل کېده چې تر جګړې وروسته د نړیوالې سولې له راتګ سره سم به یادې اډې خالي کوي، خو تر اوسه لا داسې نه دي شوي. د امریکا سمندري ځواک تقریباً د نړۍ ټول سمندرونه، بحري لارې، بندرونه او د سمندرونو ستراتېژیکې برخې په واک کې لري. د مسکو او بیجېنګ مشران، په آسیا-پاسیفیک او اروپا کې د امریکا په حضور او برترۍ سوځي، خو دوی پر دې هم پوهېږي چې له دغو سیمو د امریکا ایستل اسانه کار نه دی.

زیاتره امریکایان، په آسیا، اروپا او منځنی ختیځ کې د امریکا سیاسي او پوځي شتون د نړیوال امنیت او ملي ګټو د خوندیتوب په پلمه توجیه کوي، خو بهرني مدعیان یې د ځواک او نفوذ ناعادلانه او د نه زغم وړ وېش بولي. دا جیوپولیټیک ادغام په تاریخي لحاظ یو تصادف دی او په منصفانه او اوږدمهالې توګه یې د اړول کېدو هڅه هم شوې ده.

یو قطبي توب له جیوپولیټیکي زاویې لوستل، د دوه قطبي نظام په څېر، د هغو پر راتلونکي له پوهېدو سره مرسته کولی شي. دوه قطبي نظام هغه وخت پای ته ورسېد چې کله شوروي له ختیځې اروپا څخه خپلې لښکرې راغونډې او په ختیځه آسیا کې له پوځي حضور ساتلو شاته شو. که امریکا د اروپا په لویه وچه او د ختیځې آسیا په بحري او ساحلي هېوادونو کنټرول له لاسه ورکړي، نو یو قطبي نظام به هم همداسې پای ولري. په اوسنیو حالاتو کې داسې حالت رامنځته کېدل له دوو لارو امکان لري.

لومړی؛ ښایي ځینې نړیوال سیالان او د رقیبو هېوادونو ډله امریکا له اروپا او آسیا او یا هم له دواړو لویو وچو څخه وشړي. که روس په اروپا کې ځمکنۍ جګړه پیل کړي، نو دا به د امریکا د امنیت او دفاع د تضمین د تشو وعدو اصلیت هم ښکاره کړي چې د ختیځې اروپا ملګرو هېوادونو سره یې کړې دي. بلخوا چین ښایي په ختیځه آسیا کې د پوځي زور او فشار له لارې د امریکا متحدین اړ کړي چې په خپلو هېوادونو کې د امریکا پوځي اډې چې د سیمې وضعیت ترې خاري، وتړي. یو بل امکان دا هم کېدای شي چې د آسیا او اروپا قدرتونه د پوځي خنډونو په جوړولو سره امریکا ته دا ناممکنه کړي چې له کوره د باندې فعال پوځي حضور جاري وساتي.

تر ټولو مهمه دا چې یو قطبي نظام به هغه وخت پای ته ورسېږي چې کله امریکا په اروپا او ختیځه آسیا نیمه هژمونیکه سلطه له لاسه ورکړي. ځمکنۍ جیوپولیټیکي شرایط باید بدل شي. د دې لپاره یوه لاره دا ده چې پر امریکا رقیب هېوادونه خپل فشارونه زیات کړي، څو دا یو قطبي نظام تغیر شي .

بله لاره دا ده چې امریکا به د خپلو دلایلو او اړتیاوو پر بنسټ په بهر کې خپل حضور کموي. دا وړاندوینه چارلېس کراتهامیر هم کړې وه چې یو قطبي نظام به په امریکا کې د ننه پر حکومت د انزوا غوښتونکو له خوا د زیاتېدونکي فشار له امله پای ته رسېږي. امریکایي انزوا غوښتونکي په دې اند دي چې نړیوال امنیت په بهر کې د امریکا په پوځي او سیاسي حضور پورې اړه نه لري.

په هر حال، پایله یې دا ده چې په یو قطبي نظام کې د امریکا «دور» دوام په مهمو ستراتېژیکو سیمو کې په سیاسي او پوځي ژورې ښکېلتیا پورې تړلی. کله چې شوروي له همدې سیمو (آسیا پاسیفیک او یورو آسیا) څخه په ۱۹۹۱ ز کال کې په شا شو، نو امریکا پکې برلاسې شوه. له دې سیمو د امریکا شاتګ به په زور یا په رضا د یو قطبي نظام د پای شېبه وبلل شي.


یو قطبي نظام تر اوسه پای ته نه دی رسېدلی، خو که شي هم، غوره کار بلل کېږي. د بهرنۍ پالیسۍ شنونکو ته مهمه پوښتنه دا نه ده چې تر یو قطبي نظام وروسته به کوم ډول نړیوال سیستم رامنځته شي، بلکې دا ورته مهمه ده چې د یو قطبي نظام پای ته رسېدل به څرنګه شوني وي؟ دا ځکه چې د یو قطبي نظام سقوط د نړیوال سیاست پر بیا ځان نیونه هومره سیوری نه غوړي لکه څومره چې د دې پر تایید اغېز ښندي چې ورته بیا جوړښت له وخته لا څرګند شوی دی.

## د چاپېریال ساتنې اداره: افغانستان له جدي اقلیمي ګواښونو سره مخ دی

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې د اقلیمي ستونزو د هوارې لپاره په لومړي ځل د زرغون اقلیم له نړیوال صندوقه بودجه تر لاسه کړه.

د دغې ادارې مرستیال ادریس ملیار په دې تړاو د ناستې پرمهال رسنیو ته ویلي، چې افغانستان له سختو اقلیمي ګواښونو سره مخ دی چې باید په دې برخه کې جدي کار وشي.

هغه ویلي: «کوم مطالعات چې شوي، ښیي چې افغانستان د نړۍ له اقلیمه د زیانمنو په لسو هېوادونو کې دی. که چېرې په دې برخه کې لازم کار ونشي، په سېلابونو او وچکالیو به زموږ د هېواد زیان زیات شي. تر دې وړاندې په لسو کلونو کې به یو ځل وچکالي راتله، خو اوس هر دوه یا درې کاله وروسته راځي، نو د یو دولت او



حکومت په حیث موږ هڅه کوو چې ورته چمتووالی ونیسو.»

په ورته وخت کې دې ادارې له ځینو نړیوالو ادارو سره په ګډه هڅې پیل کړې چې د افغانستان د اقلیمي ګواښونو لپاره چمتووالی ونیسي.

دغې ادارې په لومړي ځل د ۳۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت د اقلیمي زرغون نړیوال صندوق له لوري د چاپېریال ساتنې د پیاوړتیا په موخه بودجه هم تر لاسه کړه. مرسته شوې پیسې به د هوا، د اوبو د پاکوالي، د انرژۍ تولید او په هر هغه ځای کې مصرفېږي چې د هوا له پاکوالي سره مرسته وکړي او د ککړتیا مخه یې ونیسي.

د چاپېریال ساتنې ادارې ویلي، په ټوله کې له ۲۰۲۰ څخه تر ۲۰۳۰ میلادي کاله پورې افغانستان د اقلیمي ستونزو د بشپړ هوارې لپاره ۱۷.۴ میلیاردو ډالرو ته اړتیا لري.

په حمامونو او د خښتو په بټیو کې کې ناوړه سون توکي کارول، د بې کیفیته تېلو استعمالول، له زړو او له وخت تېرو موټرو استفاده، له اوبو ناوړه ګټه اخیستل، په ښارونو کې زیات نفوس او نور بېلابېل موارد هغه څه دي چې د افغانستان ته یې زیاتې اقلیمي ستونزې پېښې کړې دي.

د اقلیمي رزغون نړیوال صندوق له لوري له اقلیمه د زیانمنو بېلابېلو هېوادونو سره مرسته کېږي چې په دغو هېوادونو کې یادې ستونزې راکمې کړي او د راتلونکو اټکلي ګواښونو لپاره چمتووالی ونیول شي.

# ایا له ویتنام، عراق او افغانستان څخه تللو امریکايي سرتېرو ته یو ډول درناوی کېږي؟

لیکنه: تارا مک کلوی / ژباړه: جواد تیموري

په عراق کې د امریکا جګړه هم د امریکایانو او هم د نورو نړیوالو له نظره یوه لویه فاجعه وه. خو له دې سره سره هم هغه امریکايي پوځیان چې له جګړې بېرته خپل هېواد ته ستانه شوي، هر کال یې نمانځنه کېږي، خو د دوی او د ویتنام له جګړې د ستنو شویو امریکایانو نمانځنه ډېر توپیر لري.

په تېره جون میاشت کې د عراق له جګړې ستانه شوي هوايي پوځي ډیوید بلاویا ته د امریکا تر ټولو ستر پوځي مډال ورکړل شو. د امریکا ولسمشر ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې د یو لړ ځانګړو مراسمو په تر سره کولو سره د نوموړي «مېړانه» وستایه. نوموړی هغه لومړی امریکايي سرتېری دی چې په ژوندون د دغه هېواد تر ټولو لوی مډال تر لاسه کوي.

په هغو مراسمو کې چې د بلاویا د نمانځلو لپاره په سپینه ماڼۍ کې جوړ شوي وو، د دغه هېواد د کانګرېس غړو، پوځي قوماندانانو او د بېلابېلو طبقو خلکو پکې ګډون کړی و. خو تر ټولو جالبه دا ده چې هغه مراسم چې د بلاویا او یا هغو پوځیانو لپاره چې له عراقه راستانه شوي، د هغو سرتېرو په پرتله چې له ویتنامه را ستانه شوي، ډېر توپیر لري.

له بلې خوا د عراق او ویتنام جګړې په امریکا کې په کور دننه تر ټولو نا خوښې جګړې وې او د دغه هېواد د تاریخ د تورو پاڼو په توګه ورته کتل کېږي.

په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسیزو کې د ویتنام د جګړې پر مهال ۵۸ زره امریکايي پوځیان او تر دوو لکو ویتنامي سرتیري ووژل شول. دغه راز په دې جګړه کې تر ټولو زیاته مرګ ژوبله ملکیانو ته اوښتې چې د ځینو راپورونو له مخې، د ښځو او ماشومانو په ګډون پکې نږدې دوو میلیونو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

بلخوا، د عراق جګړه چې په ۲۰۰۳ ز کال کې پیل شوه، تر اوسه په دې جګړه کې تر پنځو زرو زیات امریکایان او نږدې نیم میلیون عراقیان وژل شوي دي.

لکه څرنګه چې مشهور امریکايي ورځپاڼه لیکونکي توماس ریکز چې د عراق د جګړې په اړه یې یو کتاب هم لیکلی، وایي چې د ډېریو امریکایانو په باور د عراق جګړه بې ګټې او «مسخره» وه.

خو له هغو سرتېرو چې په دغه جګړه کې یې ګډون کړی و، له دې کبله چې د دوی په باور بریالي شوي دي او هلته یې له امریکايي ګټو په ښه توګه ساتنه او دفاع کړې، هر کال په شاندارو مراسمو نمانځنه کېږي.

خو هغه سرتېري چې د ویتنام له خونړۍ جګړې امریکا ته بېرته ستانه شوي، له دوی سره ډېر ناوړه چلن کېږي او ډېری وخت په ویتنام کې د امریکا د ماتې پړه هم پر دوی اچول کېږي.

د امریکا نامتو تاریخ لیکونکي جیمز رایټ په نیویورکر نشریه کې لیکلي: «کوم وخت چې امریکايي سرتېري د ویتنام له تودې جګړې بېرته خپل هېواد ته راستانه شول، نو په کور دننه ورته د وحشیانه او ظالمانه جګړې د قربانیانو په سترګه نه کتل کېدل، بلکې کورنیو امریکایانو دوی د جګړې اصلي بایلونکي بلل».

اډ باریک چې اوسمهال ۷۳ کاله عمر لري، له ۱۹۶۴-۱۹۶۷ کلونو پورې یې په ویتنام کې د امریکا په پوځ کې د انجنیر په توګه دنده تر سره کوله او په دغه هېواد کې د امریکا له ماتې وروسته بېرته ژوند خپل هېواد راستون نه شو. هغه وایي: «په یاد مې دي، کله چې د ویتنام له جګړې راستون شوم، په کور دننه امریکایانو به ماته لاړې را توف کولې، ماته به یې (بچه کوش) ویل، په رښتیا هم چې ددوی دغه چلن زه ډېر ځورولم».

خو د دې خلاف امریکایان د هغو پوځیانو چې له عراقه راستانه شوي، ډېره ستاینه او ملاتړ کوي. د الیر مکلین په نوم یو څېړونکی چې له جګړو د راستنو شویو امریکايي سرتېرو په اړه یې څېړنې کړې، وایي: «زموږ څېړنې دا په ډاګه کوي چې له عراقه د راستنو شویو سرتېرو وضعیت هغو پوځیانو ته ښه دی، چې د ویتنام له جګړې څخه راستانه شوي دي».

بلخوا هغه سرتېري چې په ویتنام کې به د جګړې پر مهال سخت زخمي شول، د ژوندي پاتې کېدو چانس به یې ډېر کم و، ځکه چې د امریکا پوځ د دوی لپاره لازم روغتیایي خدمتونه نه وو برابر کړي، خو د دې برعکس، هغه پوځیان چې د عراق په جګړه کې به یې ټپونه هرڅومره ژور هم وو، د ژوندي پاتې کېدو امکانات یې ډېر وو، ځکه چې دوی ته له نورو برخو سربېره، په روغتیایي برخه کې هم لازمې اسانتیاوې په پام کې نیول شوې وې.

د یوې څېړنې له مخې، د ویتنام په جګړه کې ۷۶ سلنه هغه امریکایان چې سخت به ټپیان وو، ژوندي پاتې کېدو فرصت یې درلود، خو برعکس د عراق په جګړه کې بیا دغه شمېره ۸۰ سلنه وه.

ډیوېډ هملټون چې په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ ز کلونو کې یې په عراق کې د امریکا په پوځ کې د کارپوه په توګه دنده ترسره کړې وایي، کله چې بېرته خپل ایالت (کالیفرنیا) ته راوګرځېدم، خلکو زما تود هر کلی وکړ.

هغه وایي، کله چې د کالیفرنیا په ایالت کې له الوتکې ښکته کېدم، ومې لیدل چې خلکو په پوسټرونو کې زما عکسونه او نوم ځای پر ځای کړي او له الوتکې څخه د کوزېدو پر مهال یې زما تود هر کلی وکړ، خو هغه د خپل یوه بل ملګري خاطره هم لري. نوموړی وایي: «زما یو ملګری چې د ویتنام له جګړې څخه په داسې حال کې راستون شوی و، چې په بدن یې د ټپونو نښې له ورایه ښکارېدې، هېڅوک یې هم هر کلي ته نه وو ورغلي».

له بلې خوا د افغانستان له جګړې څخه ستنو شویو پوځیانو ته هم هر کال په دغه هېواد کې ځانګړې تدابیر نیول کېږي او د هغو ټولو سرتېرو قدرداني کېږي، چې په دې جګړه کې یې ګډون کړی و.

# بیا هم ملکي تلفات؛

## ګډو ځواکونو په بغلان او وردګو کې ۱۲ ملکیان وژلي دي



سره له دې چې په دوحه کې افغان پلاوي او طالبانو د ملکي وګړو د تلفاتو پر مخنیوي تفاهم کړی دی او په دې اړه یې پرېکړه لیک صادر کړ، خو څو ساعته وروسته په بغلان او وردګو ولایت کې ملکي وګړي په نښه شوي او پر کورونو هوايي بریدونه شوي دي. دغه بریدونه د ملي شورا غړو، ځایي چارواکو او د ټولنیزو شبکو کاروونکو غندلي دي او په اړه یې اعتراضونه کړي دي.

تېره ورځ د دوحې تر بین‌الافغاني ناستې وروسته یو پرېکړه لیک صادر شو، دواړو لورو پرېکړه وکړه چې د عامه تاسیساتو ساتنه به کېږي، پر کلینیکونو به بریدونه نه کېږي، ښوونځي به مصؤن وي او د ملکي وګړو د ژوند خوندیتابه ته به پاملرنه ډېرېږي. خو برعکس د جګړې ډګر بیا خونړی دی او لا هم افغان ملکي او بې دفاع وګړي د دې جګړې قربانیان دي. تازه په بغلان او وردګو ولایت کې بوږنوونکې پېښې شوې دي او د خلکو غبرګون یې پارولی دی.

د دغو خونړیو پېښو لومړۍ یې د بغلان ولایت د ډنډ شهاب‌الدین قطب خېلو سیمه کې د بې پیلوټه الوتکې د هوايي برید له امله رامنځ ته شوه او په دې هوايي برید کې د یوې کورنۍ اووه غړي ووژل شول، چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي. له دې پېښې وروسته د سیمې خلکو د اعتراض په ډول د قربانیانو جنازې له ځان سره د کابل شمال لویې لارې ته راوړې او دغه لاره یې د اعتراض په ډول وتړله. دوی د حکومت او خپلسرو هوايي بریدونو پر ضد شعارونه ورکول او د دغه پېښې د پلټنې غوښتنه یې کوله. د سیمې یو کس اوسېدونکی خان محمد ویلي، بهرنیو ځواکونو پر عامو وګړو برید کړی دی او واړه واړه ماشومان یې وژلي دي. نوموړی وایي: ((یوه بجه د شپې وه، نه جنګ و نه جګړه وه، خو الوتکه راغله او بم یې وغورځاوه. وروسته پوه شو چې پر یوه کور یې بم غورځولی دی او ټول یې د یوې کورنۍ غړي شهیدان کړي دي)). ځايي خلک وایي چې حکومت باید دغه پېښه وڅېړي او معلومات یې له خلکو سره شریک کړي. د بغلان د ولایتي شورا غړی شمس‌الحق بارکزی وایي، فکر نه کوي چې حکومت دې دغه پېښه وڅېړي. د هغه په خبره، حکومت په ځلونو د پېښې د څېړلو امر کړی دی.

بل پلو د وردګو ولایت په جلګه کې بهرنیو او کورنیو ځواکونو پر یوه کلینیک عملیات کړي چې د دغه کلینیک څلور ډاکټران او یو ناروغ یې وژلي دي. د میدان وردګو ولایت د ولایتي شورا غړی اخترمحمد طاهري دغه برید تاییدوي او وایي دا ډول وحشتناک بریدونه د ولس او حکومت ترمنځ واټن ډېروي. په دې عملیاتو کې ګډو ځواکونو څو کارکوونکي له ځان سره بېولي هم دي. اخترمحمد وایي: ((دغه ډول بریدونه وحشتناک او جنګي جنایت دی. په دې حساسو شرایطو کې د ملکیانو تلفات سخت غبرګون پارولی شي او باید نور دا لړۍ ودرول شي)).

د ولسي جرګې غړي هم دغه ډول بریدونه په کلکو ټکو غندلي او د درېدو غوښتنه یې کوي. د مشرانو جرګې رییس فضل الهادي مسلمیار هم پر ملکیانو بریدونه جنګي جنایت بللی دی او د هغه د تکرار د مخنیوي غوښتنه یې کړې ده. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم دغه ډول بریدونه جنګي جنایت بللی دی او د درېدو غوښتنه یې کړې ده.

# مایک پېنس: متحده ایالتونه به پر ایران خپلو فشارونو ته دوام ورکړي



د متحده ایالتونو مرستیال ولسمشر مایک پېنس ویلي، امریکا به پر ایران خپلو فشارونو ته دوام ورکړي.

هغه ویلي چې د یورانیمو د بډاینې په اړه د ایران پرېکړه د دغه هېواد د ورانکارو فعالیتونو یوه برخه ده.

پېنس په واشنګټن کې د اسراییلو لپاره د مسیحیانو د یووالي کنفرانس ته ویلي چې پر ایران باندې به اقتصادي فشارونو ته دوام ورکړي.

هغه زیاته کړې: «د متحده ایالتونو پوځ چمتو دی چې زموږ له ګټو، پرسونل او خلکو په سیمه کې ساتنه وکړي. موږ به د ایران د ورانکاره نفوذ پر وړاندې مخالفت ته دوام ورکړو، موږ به پر هغوی اقتصادي فشار جاري وساتو او د ولسمشر ټرمپ په مشرۍ امریکا به هېڅکله اجازه ور نه کړي چې ایران اټومي وسلو ته لاسرسی پیدا کړي».

دا څرګندونې داسې مهال دي چې د پېنس تر خبرو مخکې د ایران د اټومي انرژۍ د سازمانویاند بهروز کمالوندي اعلان وکړ چې هېواد یې د یورانیمو د بډاینې کچه له څلور نیمو اړولې ده.

ایران د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون تر لاسلیک مخکې، یورانیم تر دری نیمو درجو یا هم ځینې وخت تر دې کچې شل په سلو کې زیات بډایه کول.

د اټومي تړون پر اساس، ایران اجازه نه لري چې یورانیم له دری اعشاریه اووه شپېټو زیات بډای کړي. د یادونې ده چې بډایه یورانیم د اټومي بمونو په جوړولو کې کارول کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ایراني چارواکو ویلي وو، که نړیوال له ایران سره د شوي تړون مادې عملي نه کړي، دغه هېواد به په بشپړه توګه یاد تړون تحریم کړي.

متحده ایالتونه له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه د ۲۰۱۸ ز کال په مې میاشت کې ووتل او یو ځل بیا یې پر دغه هېواد بندیزونه ولګول چې ایران یې له اقتصادي رکود سره مخ کړی دی.

د امریکا ولسمشر ټرمپ ویلي، تر هغه به پر ایران فشار ته دوام ورکړي چې دا هېواد اټومي وسلې جوړې نه کړي، د بالسټیک راکټونو پروګرام بند کړي او په منځني ختیځ کې له خپلو زیان رسوونکو فعالیتونو لاس په سر شي.

خو ایران بیا بیا ویلي چې ټول اټومي فعالیتونه یې سوله ییز دي او د هېڅ تروریستي ډلې ملاتړ نه کوي.

## د کتــاب خبــرې


# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### لومړی څپرکی
### د یوویشتمې پېړۍ پښتانه
### د فاجعې دوام




د افغانستان تاریخ ته په کتو، دوه ځله د خلکو له لوري د ټاکل شوي ولسمشر ژوند هم په امن نه و. ډېری افغان پاچاهان یا وژل شوي او یا خو جلا وطن شوي. د کرزي په څېر ډېری شاهان، کمونېستان او د اسلامي ایډیولوژۍ پلوي افغان مشـران پښتانه وو. تر هغه د دې مشـرانو برخلیک معلوم نه وي، څو پورې یې هغه خلک نه وي پېژندلي چې دوی حکومت پرې کوي، پر دوی ځینې وخت زور او جبر ته هم مجبورېږي. په معاصر وخت کې د پښتون هویت پر هغو ډېرو پښتنو اطلاق کېږي چې د پیرنګیانو له لوري پر سینه بېل شوي او نیم یې د کرښې یوې خواته او نیم یې بلې خواته مېشت دي.

**پښتانه څوک دي؟**

پښتانه په بېلابېلو نومونو یاد شوي، له حقوقي اړخه د افغانستان اوسېدونکي ته (افغان) وایي چې ځینې وختونه د پښتون په مانا کارېږي. د پاکستان په سویل لوېدیځو سیمو کې پښتانه د خپل هویت په اړه ډېر ښه پوهېږي، هغوی لا هم په رسمي چارو کې خپل هویت افغان ښیي، دا چاره د راج له وخته پیل شوې ده. په غیر رسمي بڼه (پټان) له پختون کلمې اخیستل شوی او د برېټانوي امپراتورۍ پر مهال د هند د نیمې وچې په تېر پېژندنه (ethnography) کې استعمالېده، خو اوس دا کلمه ډېره نه کارېږي.

ډېری پښتانه مشـران او پوهان یوویشتمه پېړۍ کې خپل خلک ډېر بې برخې او پر سختیو کې ښکېل ګڼي، ځکه د پښتنو خاوره د نړیوالو له لوري د جګړې ډګر ګرځېدلی او دلته د نړۍ تر ټولو ځواکمن رسمي او شخصي پوځونه را ایسار شوي. د پښتون په سیمه کې، تر دې دمه پښتون پېژندنې ته ډېره لږ پاملرنه شوې. دې وروستیو کې ډېری ژورنالېستیکي اثار چې د افغانستان او پاکستان د پولې دواړو غاړو سیمو په اړه لیکل شوي، وایي چې متشدد اسلامي افراطیت، له طالبانو او د هغوی له ملګرو ډلو څخه ملاتړ یا خو له پښتون تاریخ او کلتور څخه ریښه اخلي یا خو په پښتني ټولنو او د ډیورنډ پر کرښه مېشت دې عناصرو او پدیدو او سخت دریځۍ ته حاضر شوي دي.

د په امریکا متحدو ایالتونو کې د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر د ۱۱مې ترهګریزو بریدونو په بدل کې د افغانستان او پاکستان د پښتنو سیمو اوسېدونکو خورا لوړې بیې پرې کړې. د لوی اکثریت پښتون قوم برخلیک له سخت دریځۍ سره وتړل شو ځایي، اسلام پال او بهرني سخت دریځي د پښتون کور ته راغلل، د هغوی د ژوند ډول او ارزښتونه یې په بنسټیزه توګه د خپل سخت دریځه تاوتریخوالي تر سیوري لاندې راوستل.

که څه هم کره احصایوي شمېرې نشته، خو اټکل کېږي چې په افغانستان او پاکستان کې له څلوېښتو څخه تر پنځوس میلیونه پښتانه ژوند کوي. اټکل کېږي چې د افغانستان د نفوسو نیمه برخه پښتانه جوړوي چې شمېر یې (۲۵.۵میلیونه) ته رسېږي، خو پاکستان کې پښتانه لوی لږکي دي چې د ۲۰۱۰ز کال د شمېرو له مخې له ۱۷۴ میلیونه نفوسو څخه یې (۱۵-۲۰سلنه) پښتانه دي. پښتانه له اره د مرکزي افغانستان د هندوکش د غرونو او هندو سیند ترمنځ اوسېدل، خو اوس پښتانه په خورا پراخو سیمو کې اوسېږي. په تېره یوه پېړۍ کې پښتانه د افغانستان په شمال کې د مرکزي اسیا ترڅنګ پروت امو سیند پر غاړه مېشت شوي. د پاکستان سویل کې بندر لرونکی ښار کراچۍ د عرب سمندر ترڅنګ پروت دی چې پکې د سیمې د بل هر ښار په پرتله ډېر پښتانه اوسېږي، دې ښار ته د پښتنو د ورتګ اساسي دلیل اقتصادي کاروبار دی. د کراچۍ له شل میلیونه نفوس څخه یې څلور میلیونه پښتانه دي.

لږ تر لږه تېرې شپږ پېړۍ د پښتنو تاریخ، جګړې، یرغلونه او خپل منځي تاوتریخوالي لري. پر دې سترو ګواښونو سربېره لا هم د پښتون هویت ژوندی دی. د مغلو په څېر پخواني قومونه چې یوازې یې نومونه په تاریخي کتابونو کې شته، په لوی توپیر سره پښتنو یو ملت جوړ کړی. سره له دې چې پښتنو د تاریخ په اوږدو کې خپلې امپراتورۍ لرلې، خو هغوی هېڅکله نه دي توانېدلي چې ټول په یوه امپراتورۍ، دولت او سیاسي سېسټم کې ور ټول شي. شلمه پېړۍ کې د روسانو له یرغل وړاندې افغانستان کې د پښتنو په مشرۍ دولت جوړ و، هغوی غوښتل خپل ملي هویت او کلتور په نړیواله کچه وځلوي. د اوسني پاکستان په شمال لوېدیځ کې د سوات غرنۍ سیمې هغه مهال چې لا په ۱۹۴۷ز کال پاکستان نه و جوړ شوی، دلته د معاصرو پښتنو شهزادګانو دولت و چې بیا دا سیمې په ۱۹۶۹ز کال د پاکستان په اداري قیمومیت کې راغلې. په سیمه کې سیاسي بې ثباتیو او بهرنیو لاسوهنو د پښتنو قبیلوي طبیعت ځواکمن وساته، په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې چېرې چې ډېری پښتانه اوسېږي.

**پېچلي قومي جوړښتونه**

د پښتنو تفصیلي شجرې پر قیس عبدالرشید را ټولې دي، هغه د پښتنو لومړی پلار ګڼل کېږي. د پښتنو شجرې د اوولسمې پېړۍ د مغلو له درباروڼو سرچینه اخلي چې د مغلي دربار د کاتب نعمت الله هېروي له لوري لیکل شوې دي. دې شجرو د وخت په تېرېدو سره د برېټانوي استعمار تېر پېژندنو ته لاره پیدا کړې چې ځینې وختونه د سیمې په معاصرو اثارو کې هم لیدل کېږي. نن ورځ دا شجرې د قومونو د اړیکو یوه روښانه نقشه جوړوي چې د قومونو په د ننه کې هم اړیکې روښانه کوي. **دوام لري...**

# د اړیکو مدیریت

◀ اکسوس کتابپلورنځی

«په اوسنۍ نړۍ کې چې هره شېبه یې د چټکو بدلونونو او پرمختګونو شاهده ده، اړیکې خورا مهمې دي. د نویو څېړنو له مخې، زموږ د ورځنی ژوند ۷۵ سلنه وخت په یو ډول له نورو سره په اړیکو کې تېرېږي، نو له همدې کبله د هر چا د ژوند کیفیت له نورو سره د هغه د اړیکو پر کیفیت پورې اړه لري. اړیکې د مهارتونو ټولګه ده؛ خو تر ټولو مهم یې د مقابل لوري درک کول او له هغوی سره په خبره پوهېدل دي. ژبه یوازې د اړیکو ټینګولو وسیله نه ده او په عین حال کې په هر اړخیزه توګه کامله هم نه ده؛ ځکه چې انساني پیغامونه او غوښتنې، په ځانګړې ډول هغه پیغامونه او غوښتنې چې له احساساتو او عواطفو څخه سرچینه اخلي، داسې پېچلې دي، چې ځینې وختونه یې د ویلو لپاره هېڅ الفاظ نه موندل کېږي. ډېری وختونه یوه لیدنه، لحن او غږ داسې پیغام له ځانه سره لېږدوي، چې د انسان د داخلي او پټو رازونو استازولي کوي...» پورتنۍ خبرې «د اړیکو د مدیریت» کتاب د سریزې یوه برخه ده، چې نامتو امریکایي لیکوال، روزونکي، ویناوال او د مدیریت او رهبرۍ د برخې متخصص جان مکسویل لیکلی دی. یاد کتاب تازه جواد تیموري له انګرېزي ژبې څخه پښتو ته ژباړلی دی. کتاب اکسوس چاپ کړی او بیا کتنه یې احمدشاه ویاړ کړې چې ټولټال د اتو څپرکو په درلودو سره په ۹۴ مخونو کې راټول شوی دی.

په کتاب کې تر ډېره پر اړیکو، د اړیکو پر مدیریت او په اړیکو کې د اړینو مواردو او عناصرو په اړه بحث شوی دی. یو بل مهم ټکی چې په دغه کتاب کې ورته په غور سره پاملرنه شوې، هغه ګډې تجربې دي. د کتاب لیکوال وایي: «متقابل احترام او درناوی درسره مرسته کوي چې له نورو سره اړیکې جوړې کړی، خو د پیاوړو اړیکو لپاره بیا دغه څه بسنه نه کوي، له همدې کبله باید تاسو له نورو سره خپلې تجربې شریکې کړئ».

د کتاب په لومړي څپرکي کې پر اړیکو، د اړیکو پر ارزښت، پیاوړو اړیکو، د اړیکو پر اصولو او ګډو ټکو په مفصل ډول بحث شوی دی. په دویم څپرکي کې لیکوال تر ډېره هغه موارد شاربلي چې د نورو په اړه باید پرې وپوهېږو. د کتاب په دې برخه کې د نورو په درک کولو، له نورو کسانو سره پر مرستې، خواخوږۍ او ځینو نورو اړینو مسایلو خبرې شوې دي. په همدې ډول په دریم، څلورم، پنځم، شپږم، اووم او اتم څپرکو کې هم د اړیکو پر اهمیت، لومړیتوبونو، مدیریت او پاللو په مفصل ډول خبرې شوې دي.

که غواړی د اړیکو پر مټ مو ژوند ورځې تر بلې ښکلی کړی، خپلو موخو ته په اسانۍ سره ورسېږی او په ټوله مانا ځان د نورو د زړونو پاچا جوړ کړی؛ د اړیکو مدیریت کتاب ولولئ!

مینه وال کولای شي دغه کتاب په کابل کې له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | پــــــښتانه | ابوبکر صدیق | ۲۰۰؋ |
| ۲ | د اړیکو مدیریت | جواد تېموري | ۸۰؋ |
| ۳ | لسم ولسمشر(ناول) | نور الله سلطان زوی | ۱۰۰؋ |
| ٤ | اسناد اداری | حمیدالله عبدالهی | ۱۳۰؋ |
| ۵ | د افغان پاچاهانو لنډ تاریخ | م . ع | ۷۰؋ |
| ٦ | په کورونو او فارمونو کی د وطنی چرګانو ساتنه او تولید | عبدالحمید هلمندي | ۱٤۰؋ |
| ۷ | د کرنیزې پراختیا اقتصاد | محمود مهرووال | ۲۲۰؋ |
| ۸ | بانک سوالات آزمایشی امتحان شورای طبی | نثار احمد ظهیر، عصمت الله رسولی | ۳۵۰؋ |
| ۹ | بانک سوالات آماده گی اکمال تخصص | اساتید پوهنتون علوم طبی کابل | ۲۲۰؋ |
| ۱۰ | د ښځې اسلامي آزادي | محمد عماره | ۸۰؋ |
| ۱۱ | Ways to Motivate Yourself 100 | steve chandler | ۱۵۰؋ |
| ۱۲ | رنګیني کرښې | آمر محمد ذاکر افضلي | ٦۰؋ |
| ۱۳ | مایکروبیولوژی کلینیکی | جانداد احمد ویاړ مومند | ۲۵۰؋ |
| ۱٤ | Longman Academic Writing Series 1 | pearson | ۲۷۰؋ |
| ۱۵ | Longman Academic Writing Series 2 | | ۲۸۰؋ |
| ۱٦ | Longman Academic Writing Series 3 | | ۳۵۰؋ |
| ۱۷ | Longman Academic Writing Series 4 | | ۳۸۰؋ |
| ۱۸ | Longman Academic Writing Series 5 | | ۳۵۰؋ |
| ۱۹ | The Rules of Work | Richard Templar | ۱۷۰؋ |
| ۲۰ | د خوښۍ په لټه | سونجا لیو بمېرسکی | ۱۲۰؋ |
| ۲۱ | رنګییني کرښې | محمد ذاکر افضلی | ٦۰؋ |
| ۲۲ | د حیواناتو فارم | جورج اورویل | ۸۰؋ |
| ۲۳ | نازو ( ناول ) | اصف مشال | ٦۰؋ |
| ۲٤ | د یوازیتوب سل کاله | ګابریل ګارسیا مارکز | ۲۰۰؋ |
| ۲۵ | وقار تفسیر ۳،۲،۱جلده | دل آقا وقار | ۱۵۰۰؋ |
| ۲٦ | ارشادات نبوی | مایل آقا متقی | ۱۵۰؋ |
| ۲۷ | بررسی خشونت از دیدگاه جامعه شناسی | رحمت الله غمی | ۱۵۰؋ |
| ۲۸ | فرهنګ شهر نشینی | منصور مجاب | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | زاهد پښتو-پښتو سیند | عبدالقیوم زاهد مشواڼی | ۵۲۰؋ |
| ۳۰ | د اړیکو مدیریت | جواد تېموري | ۸۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ  اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانۍ

# ولې له کار کولو زړه توري یو؟

**ژباړه: امان الله «حنیفي»**

ایا تر اوسه مو له ځانه پوښتلي چې ولې له خپل کار څخه زړه توري یی؟ ایا دا زړه توروالی مو د هغو کسانو له امله دی، چې تاسې ورسره سروکار لرئ؟ یا مو کار نوی پیل کړی او یا هم کومه بله مسئله ده؟

له کاره د زړه توروالي د اصلي لامل پیدا کول له موږ سره مرسته کوي، څو دا بد صفت چې موږ خپل کړی، له منځه یوسو او وشو کولای چې له خپل کار څخه خوند واخلو او یا لږ تر لږه هغه د تحمل کړو. په همدې مقاله کې درته څلور هغه پوښتنې مطرح کوو، چې په ځوابولو سره یې کولای شو هغه لامل پیدا کړو چې ولې موږ له کار کولو څخه زړه توري شوي یاستو او د دغه ذهنیت او شرایطو د بدلون لپاره باید کوم کارونه وکړو.

**۱ـ ایا یوازې پر منفي شیانو تمرکز کوئ؟**

یوازې پر منفي شیانو فکر او تمرکز کول له کاره د زړه توروالي لامل کېږي. ممکن د مخالفو او ضد خبرو اورېدل یا هغه ته ارزښت ورکول مو هم له کار څخه زړه توري کړي. کله چې د بریالیو مدیرانو خبرې اورئ، چې هغوی د خپل مسیر د پیدا کولو او ننني موقف ته د رسېدو په اړه خبرې کوو، دا وخت حتماً زموږ په ذهن کې خپلو موخو ته د رسېدو ژمنه راګرځي، چې موږ خپلې ژمنې ته ځومره وفادار یو. ایا موږ غواړو چې د خپلې خوښې وړ ژوند ته ورسېږو یا د هغه په اړه خبرې وکړو؟

دا حالت د هغو کسانو په اړه چې خپل ډېر وخت د ټولنیزو رسنیو په لیدو کتو او یا هم د موسیقۍ په اورېدو تېروي، ډېر ښه صدق کوي. کله چې د نورو بریاوې او لاسته راوړنې ګورو، هغه له خپل ورځني حالت سره مقایسه کوو. کله چې یو څوک وینو چې په رخصتۍ تللی او یا هم د کورنۍ له غړو سره بازار د ځینو وسایلو د اخیستو لپاره راغلی، موږ یې په لیدو ناراحته کېږو.

پوهېږئ، د دغه هرڅه لامل یوازې پر هغه څه تمرکز کول دي، چې موږ مینه ورسره نه لرو او بیا همدا احساس مو له کاره د زړه توروالي لامل کېږي. د دې پر ځای ښه ده چې پر هغه څه خپل تمرکز راټول کړو، چې موږ ورسره مینه لرو، څو بیا له خپل کاره څخه زړه توري نه شو.

**۲- د خپل اوسني کار پر مثبتو اړخونو مو تمرکز وکړئ**

د دندې او کار پر مثبتو اړخونو فکر کول د دې لامل کېږي، چې په یاد راوړو ولې مو دا کار پیل او څنګه مو انتخاب کړ. که مو د انتخاب دلیل دا و چې د اوسنۍ دندې کاري امتیاز مو له مخکینۍ هغې لس سلنه زیات دی، کاري ټایم او مسوولیت مو په وس پوره دی، دا بیا ښه خبره ده او ورځ تر بلې ستاسې مینه له کار کولو سره زیاتېږي، خو که یوازې کاري امتیاز مو په نظر کې نیولی وي، کاري چاپېریال، همکاران او مسوولیت ته مو پام نه وي کړی، هغه ده چې بیا ستاسې د زړه توروالي لامل کېږي. کله چې موږ یوازې د دندې منفي اړخونه په یاد راوړ، هغه ده چې د وخت په تېرېدو سره مو زړه ترې توربږي. کله چې د دندې پر منفي اړخونو فکر کوو، له ځان لاندې پوښتنې کوو:

ولې په دغه موقف کې تر اوسه پاتې یم؟

ولې په دنده کې پرمختګ نه کوم؟

ولې بد کسان، پرمختګ کوي او ترفیع اخلي؟

ایا رښتیا هم دغه بد کارونه تر سره کړم؟

معمولاً داسې پوښتنې کول، د دې لامل کېږي چې زه په دغه کار کې یو ډول بند پاتې شوی یم او مجبور یم چې مخکې یې یوسم. که د کار کولو په چاپېریال کې دې ته ورته حس لرئ، تر هغې مو دا دنده مه پرېږدئ، څو مو چې بله نه ده پیدا کړې؛ ځکه بېکاري مو بیا تر دې ډېر ځوروي.

**۳- ایا د مدیرانو لپاره بې تفاوته کار کوئ؟**

د مدیرانو لپاره داسې کار کول چې هغوی مو پرمختګ او بریا ته چنداني ارزښت نه ورکوي، له کاره د زړه توروالي اصلي لامل کېدای شي. د هغه لپاره چې کار کوو او هغه فرهنګ چې موږ ته یې په کاري چاپېریال کې د عملي کولو سپارښتنه شوې، له کار سره د مینې او له هغه د زړه توروالي کې مستقیماً اغېز لري. څېړنې ښیي چې ۹۲ سلنه کارکوونکي غواړي چې له مهربانه او نرم زړو مدیرانو سره کار وکړي. په کاري چاپېریال کې مهرباني د مقابل لوري د توانايۍ او احساساتو د درک په مانا ده. دا چې مهرباني له کار سره د مینې او له هغه د نفرت په اړه ځومره ژور اغېز لري، یوازینی علت یې دا دی چې هرڅوک غواړي چې نوموړې/ نوموړي د ومنل شي.

**۴- له رییس او مدیر سره مو د خپلو هیلو او موخو په اړه خبرې وکړئ!**

کله چې له رییس او مدیر سره د خپلو موخو په اړه خبرې کوو، دا وخت غواړو هغه داسې کس و اوسي چې له موږ سره مرسته وکړای شي، څو خپلو موخو ته ورسېږو. حتی که مو رییس او مدیر نه شوای کولای چې له تاسې سره موخې ته په رسېدو کې مرسته وکړي، یوازې دا چې ستاسې هیلو ته د ارزښت په سترګه وګوري هم غټه خبره ده.

له کارکوونکو سره خواخوږي تر ټولو ارزښت لرونکی حس دی. کله چې موږ د خپلو ستونزو او مشکلاتو په اړه خبرې کوو او داسې حس کوو چې مقابل لوری مو حس درک کوي او په له منځه وړلو کې یې راسره څه مرسته کولای شي، دا وخت د ښه والي او برترۍ حس کوو. بیا هم وایم، نهایي پایله ډېره مهمه نه ده چې رییس، مدیر او یا هم کوم همکار مو څومره مرسته درسره کولای شي، خو دا چې ستاسې احساس ته ارزښت ورکړي، دا ستاسې لپاره تر ټولو ښه خبره ده او همدا مو له کار او دندې سره د مینې زیاتېدو سبب کېږي.

که مو په کاري چاپېریال کې احساساتو ته درناوی نه کېده، ښه ده چې خاموش پاتې شئ. دا وخت بیا له کاري چاپېریاله بیرون داسې یو ملګری او دوست ولټوئ، چې ستاسې خبرې په سړه سینه واوري.

# ستانکزی: د دوحې ناسته رسمي نه وه، د پرېکړې عملي کول یې ډېر ممکن نه دي

د قطر په بین‌الافغاني ناسته کې د طالبانو د پلاوي مشر ملا عباس ستانکزی ویلي چې دا رسمي بین‌الافغاني مذاکرات نه وو؛ نو ځکه یې د پرېکړو عملي کول ډېر ممکن نه دي.

نوموړي دغه څرګندونې ورمه شپه په قطر کې د بین‌الافغاني ناستې په پای کې له خبریالانو سره د خبرو پر مهال کړې دي.

د قطر او جرمني حکومتونو په همکارۍ د ٦۰ کسانو په ګډون، دغه ناسته درې ورځې وړاندې(د چنګابښ ١٦مه) له غرمې مخکې په دوحه کې پیل شوې وه.

په دې ناسته کې د طالبانو د ۱۷ کسیز پلاوي تر څنګ له کابل، اروپا او نورو هېوادونو افغان سیاستوالو، مدني ټولنې او د ښځو استازو په شخصي توګه ګډون کړی و.



دغه ناسته ورمه شپه ناوخته د اته ماده ییز پرېکړه لیک په خپرولو سره پای ته ورسېده چې پکې د جګړې له ښکېلو خواوو غوښتل شوي چې تاوتریخوالی کم کړي.

د قطر په ناسته کې د طالبانو د پلاوي مشر عباس ستانکزي ویلي چې دا یو کنفرانس و، بین‌الافغاني مذاکرات نه وو، چې پرېکړه یې حتماً عملي شي.

هغه زیاته کړې چې په دې ناسته کې ټولو خپلې اندېښنې او نظرونه څرګند کړي، داسې کومه پرېکړه نه ده شوې چې باید حتماً عملي شي.

ستانکزي ویلي: ((هرکله چې د افغانانو ترمنځ رسمي مذاکرات وشي او هغوی د راتلونکي حکومت پر جوړښت، د ښځو پر حقونو، تعلیم، تحصیل او پر نورو موضوعاتو باندې پرېکړې وکړي، بیا د تطبیق وړ دي».

نوموړي د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي، په دې ناسته کې چې کومې پرېکړې یا وړاندیزونه شوي، هر لوری دې هڅه وکړي چې عملي یې کړي، خو دا نهایي دي چې حتمي دې عملي او د نظارت کوونکو له خوا نظارت شي.

د طالبانو د پلاوي مشر زیاته کړې چې دغه کار، نورو کنفراسونو او ناستو ته اړتیا لري.

هغه له امریکا سره د خبرو په اړه ویلي، کله چې له هغوی سره مسوده نهایي شوه، له رسنیو سره به یې شریکه کړي.

# هند: په چابهار بندر کې ۷۰ سلنه بودجه کموو

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې د هند له خوا د چابهار بندر د مالي بودجې په کمښت اندېښنه ښودلې ده.

دا په داسې حال کې ده چې هند په پام کې لري چې په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ ز کلونو کې د چابهار بندر بودجه ۷۰ سلنه کمه کړي.

د ایران چابهار بندر چې هند د ایران له لارې له افغانستان سره او له هغې وروسته یې له منځنې اسیا او روسیې سره هم نښلوي، پرېکړه کړې چې د دغه بندر تر نیمايي زیاته بودجه کمه کړي.

د هند د مالیې وزیرې نیرمالاسیترامان له هندي رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې د چابهار بندر د کلنیو یو نیم میلیارد هندي کلدارو بودجه به ۴۵۰ میلیونو هندي کلدارو ته را ټیټه کړي. نوموړې د دغې پرېکړې لامل په دغه بندر کې د پراختیایي چارو ټکنې وضعیت ښودلی دی.



بلخوا د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه وايي، د هند دا پرېکړه به نه یوازې افغانستان ته، بلکې هند ته هم زیان ورسوي؛ ځکه چې هند د یاد بندر په سوداګریزه راکړه ورکړه کې ۷۰ سلنه برخه لري.

تر دې وړاندې هند پنځه سوه میلیونه امریکايي ډالر د دغه بندر د اسانتیاوو لپاره ځانګړي کړي وو.

د دغې خونې ویاند جان اقا نوید له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، وروسته له هغې چې د پاکستان هوايي حریم د افغانستان د الوتنو پر وړاندې وتړل شو، نو د افغان او هندي سوداګرو سترګې همدې بندر ته وې.

هغه زیاته کړې: «د افغانستان له خوا، په ځانګړي ډول د سوداګرو له لوري اندېښنه شته؛ ځکه ټول سوداګر په دې تمه دي چې د چابهار بندر له لارې وکولی شي هندوستان ته په ازاد ډول د ښېړیو له لارې خپل توکي ولېږي او دا که کمښت پکې راشي، کېدای شي په راکړه ورکړه باندې هم ناوړه اغېز وکړي».

افغانستان د چابهار بندر له لارې هند ته وچې او تازه مېوې، د مرمرو ډبرې او طبي بوټي لېږدوي، خو هند چې د دغه بندر له لارې په سوداګرۍ کې ۷۰ سلنه برخه لري، تر ډېره د برېښنايي توکو راکړه ورکړه کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۱۰ |
| € | ۹۰ |
| Rp. | ۵۱۰ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د جولای لسمه | دریيم کال | ٤٠٢یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۹ | ٤۳ | ٤٠ | ۳۹ | ۳۵ |
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۵ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۵ | لمر ختل ۰٤:٤۸ | ماسپښين ۱۱:۵۹ | مازيګر ۰۳:٤۵ | ماښام ۰۷:۰۹ | ماخوستن ۰۸:۵۳

## نړۍ




## ټرمپ: په امريکا کې د بريټانيا له سفير سره کار نه کوو



د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په واشنګټن کې د بريټانيا پر سفير تر سختو نيوکو وروسته ويلي: «نور له هغه سره کار نه کوو».

دا په داسې حال کې ده چې په امريکا کې د بريټانيا سفير سر کيم داروک په ځينو بريښناليکونو کې د ټرمپ دولت ناکاره بللی و.

ولسمشر ټرمپ په يوه ټويټ کې ليکلي چې سر کيم داروک په امريکا کې د خوښې سړی نه دی او دوی نور نه غواړي چې له هغه سره کار وکړي.

ټرمپ وروسته له هغې دا ټويټ کړی، چې د بريټانيا لومړۍ وزيرې تيريزامې ويلي وو، که څه هم له سر کيم سره موافقه نه ده، خو پر هغه پوره باور لري.

د لومړۍ وزيرې وياند د سفير د ايمېلونو افشا کېدل هم د نه منلو وړ بللي دي.

ټرمپ تر دې وړاندې د دغو بريښناليکونو په اړه ويلي وو: «موږ د دغه سړي پلوي نه يو او هغه بريټانيا ته په سمه توګه خدمت نه دی کړی».

دا په داسې حال کې ده چې په واشنګټن کې د بريټانيا د سفير په بريښناليکونو کې د ټرمپ اداره بې منطقه، څپ ځپانده او ناکاره بلل شوې ده.

ټرمپ دغه څرګندونې داسې مهال کوي چې تېره مياشت د سر کيم داروک په يوه استول شوي پيغام کې د ايران په اړه د امريکا دريځ ناهمغږی او ګډوډوونکی بلل شوی و.

نومـوړي په يوه ايمېل کې ليکلي، سپينه ماڼۍ د ټرمپ په واک کې ده چې په ځانګړې توګه ناکاره ده.

په ورته وخت کې د بريټانيا د بهرنيو چارو وزارت ويلي، افشا شوي بريښناليکونه چې د يکشنبې په ورځ «مېل آن سنډې» خپاره کړي، سم نه دي.

## ترکيې په ناکامې کودتاه کې د لاس لرلو په تور د ۱۷٦ پوځيانو د نيولو امر کړی دی



د ترکيې حکومت د ۲۰۱٦ ز کال په ناکامې کودتاه کې د لاس لرلو په تور د پوځ د ۱۷٦ غړيو د نيولو امر کړی دی.

د استانبول لويې څارنوالۍ تېره ورځ په يوه خپاره کړې بيان کې ويلي چې په دغو پوځيانو کې چې د نيولو امر يې صادر شوی، يو ډګروال، دوه ډګرمنان، پنځه جګړنان، اووه تورنان او سل لومړي بريدمنان شامل دي.

دغه اعلان داسې مهال دی چې د ولسمشر رجب طيب اردوغان په مشرۍ ترکي حکومت ادعا کوي چې په امريکا کې مېشت مذهبي مشر فتح‌الله ګولن د ۲۰۱٦ ز کال د جولای د ۱۵مې د ناکامې کودتاه اصلي طراح دی.

خو ګولن په دغه کودتاه کې چې ۲۵۰ کسان پکې ووژل شول او په لسګونو نور ټپيان شول، خپل لاس لرل رد کړي دي.

انقرې له واشنګټنه بيا بيا د ګولن د ور سپارلو غوښتنه کړې، خو واشنګټن د ترکيې دغه غوښتنه رد کړې ده.

د يادونې ده چې د دغې کودتاه په تړاو په وروستيو دريو کلونو کې له ۷۷ زرو زيات کسان زنداني شوي او د ملکي خدماتو، د پوځ د پرسونل او نور شاوخوا ۱۵۰ زره کسان له دندو ګوښه شوي يا يې دندې ځنډول شوي دي.

## عواید دولت در شش ماه نخست سال مالی به ۱۰۲ میلیارد افغانی رسیده‌است




وزارت مالیه می‌گوید که در شش ماه نخست سال روان، ۱۰۲ میلیارد افغانی عواید را جمع آوری نموده، که در مقایسه به زمان مشابه سال پار ۱۲ درصد افزایش را نشان می‌دهد.

شمروز خان مسجدی رئیس ارتباط و آگاهی عامه وزارت مالیه، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت: «گزارش‌های ما در شش ماه نخست سال جاری نشان می‌دهد که جمع آوری عواید ملی، نه تنها در مطابقت به پلان‌های ما بلکه فراتر از آن به پیش رفته است؛ اگر روند کنونی تداوم یابد، الی آخر سال مالی (آخر قوس) می‌توانیم که فراتر از سقف تعیین شده، عواید ملی را جمع آوری نماییم».

به اساس معلومات او، در سال مالی جاری در سند بودجه ملی، هدف برای جمع آوری عواید ملی ۱۸۸ میلیارد افغانی تعیین گردیده است؛ اما وزارت مالیه توانسته است که تا حال ۱۰۲ میلیارد افغانی جمع آوری کند.

او افزوده است که این عواید، در مقایسه با زمان مشابه سال گذشته، ۱۲ میلیارد افغانی (۱۴٪) افزایش را نشان می‌دهد.


مسجدی گفت که مصرف بودجه انکشافی، به سطح حکومت طی شش ماه نخست سال جاری، ۴۱ فیصد می‌باشد، که در مقایسه با سال گذشتهٔ پنج درصد افزایش را نشان می‌دهد.

وی افزود که مطابق به پلان وزارت مالیهُ قرار است تا آخر سال مالیُ مصرف بودجه انکشافی به سطح حکومت تا ۹۵ درصد بالا رود.

همچنان مسجدی در رابطه به اجرای ۱۵ روز معاشات تشویقی برای کارمندان دولتی گفت: «وزارت مالیه از طریق مکتوب متحدالمال، به تمام ادارات دولتی اطلاع داده است که راپور معاشات کارمندان مستحق خویش را با این وزارت شریک سازند. اداراتی که در بخش تخصیص آن مشکل داشته باشند، از بودجهٔ تخصیص شدهٔ خویش آنرا اجرا نمایند؛ وزارت مالیه در بررسی وسط سال، وجوه پرداخت شده را برای ادارات انتقال خواهد داد، که این تفاهم با تمام این ادارات، از طرف وزارت مالیه صورت گرفته است».

## ژوند

## خټکي مو د زړه او سرطان له ناروغۍ ژغوري



خټکي سربېره پر دې چې د انسان په وده او نمو کې خاص ارزښت لري، د ځينو ناروغيو پر وړاندې د ډال رول هم لوبوي.

خټکي زياته اندازه ويټامين اې (A)، بي (B) او سي (C) لري. پر يادو ويټامينونو سربېره، په دغه ميوه کې زياته اندازه فاسفورس او کلسيم هم شته.

د خټکي ګټې:

۱- د معدې تېزابيت ختموي: خټکی زياته اندازه اوبه لري کومې چې د انسان د هاضمې سيستم لپاره اړينې ګڼل کېږي. په دغه ميوه کې شته منرالونه د معدې تېزابيت ختمولو کې ډېره زياته مرسته کوي.

۲- د سرطان درملنه: خټکي کې شته کوټيناېډ نومي پروټين د سرطان ناروغۍ لپاره طبيعي درمل ګڼل کېږي او په غټو کولمو کې د سرطان خطر له حد څخه زيات کموي. خټکی په بدن کې ټول هغه مواد له منځه وړي کوم چې کولی شي انسان پر سرطان اخته کړي.


۳- د زړه له حملې مخنيوی کوي: خټکي کې شته يوه خاصه ماده اډينوساين د وينې رګونو منجمد کېدو مخه نيسي او په دې ډول په انسان کې د زړه حملې خطر کموي. خټکی په بدن کې د وينې جريان نورمال ساتي او په دې وسيله د زړه حملې خطر تر ډېره له منځه وړي.

## د انسان نيمه هوښيار ذهن کوم دی؟

نيمه هوښيار ذهن د قوت تر ټولو ستره کتابخونه ده. ځومره پوهه، تجربې او نظرونه مو چې تر اوسه درلودلي، ټول مو په دې ذهن کې زېرمه شوي دي. ستاسو دغه ذهن نږدې ټولې پېښې په ياد لري او دا وړتيا لري چې معلومات سره ترکيب او يو له بل سره مقايسه کړي.

د طبيعي علومو پوه (پيټر اوسپنسکي) وايي، نيمه هوښيار ذهن ۸۰۰۰ ځله له هوښيار ذهن څخه تېز دی. کله چې تاسو د دويم ځل لپاره يوه کس وينی او په چټکۍ سره هغه پېژنی، دا مو د نيمه هوښيار ذهن د وړتيا يوه بېلګه ده. همدا چې يو کس د دويم ځل لپاره وينی، نيمه هوښيار ذهن مو نوي معلومات له زړو هغو سره مقايسه او په ډېرې چټکۍ سره يې پايله را وباسي.

تاسو په خپل ژوند کې له ډېرو او هر ډول کسانو سره مخ کېږی او مخ شوي



ياستی چې له هغې جملې يې ځينې ستا له طبعې سره برابر دي او ځينې يې نه، د دغه څه پرتله کول، له څلورو ثانيو په کم وخت کې تر سره کېږي. د نيمه هوښيار ذهن اصلي موخه دا ده چې مخ بېلګې له کړنو سره مقايسه کړي. د نيمه هوښيار ذهن بله ځانګړنه دا ده چې د بدن ژبه، د غږ ريتم، صلاحيتونه او وړتياوې مو سره همغږې کړي.